دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

او زموږ په پیدایښت کې داسې امت هم شته چې د حق په لور ښوونه کوي او تل د حق په تله پریکړې کوي او کومو کسانو چې زموږ آیتونه دروواغ گڼلي موږ به یې پوري په پوري داسې ونیسو چې هغوی به پوه هم نه شي. اوس هغوی ته وخت ورکوم. زما تدبیر خورا پیاوړی دی.
(سورة اعراف : ۱۸۱ - ۱۸۳)

درس حدیث

از انس رضی الله عنه روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که دوست بدارد اینکه روزی اش فراخ گردیده و عمرش طولانی گردد، باید صلهء رحمش (پیوستگی با نزدیکان) را پیوسته بدارد. (متفق علیه)

شهادت خلورم کال، ۲ مه گنه، پرله پسې ۱۵۷ مه گنه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د غویي ۲۷ مه د۱۴۳۳ هـ ق د جمادی الثاني ۲۴ مه د۲۰۱۲ م د مې ۱۲ مه

امریکایي پوځیان به په افغانستان کې ۱۲ کاله نور پاتې شي "کرزی"

طالبان ترهگر نه دي او هغوی هغه کسان دي چې له خپلو کورونو شړل شوي او موږ به هڅه وکړو چې بېرته یې خپلو کورونو ته راولو



کابل، رسنۍ:
افغان ولسمشر حامد کرزي په خپله یوه تازه مرکه کې، چې له درېو بهرنیو خبریالانو سره یې په کابل کې کړې، ویلي چې امریکایي ځواکونه به لږ تر لږه د دولسو نورو کلونو لپاره په افغانستان کې وي.
کرزي وویل چې تر ۲۰۲۴ کال پورې به امریکایي ځواکونه په افغانستان کې وي او د دغه پوځي تړون په اړه به سږ کال پریکړه وشي.
له امریکا سره د افغانستان تر ستراتیژیک سند وروسته داسې ویل کیدل چې امریکایي ځواکونه به نور له افغانستان څخه په بشپړه توگه وځي.
کرزي په دې مرکه کې دا هم ویلي چې نور به په افغانستان کې یوه خصوصي امنیتي کمپنی هم د کار جواز و نه لري او
پاتې ۴ مخ

جان الن اوایل سال آینده میلادی افغانستان را ترک میکند

کابل، رسانه ها:
قرار است جنرال جان الن قوماندان نیروهای ناتو در اوایل سال آینده افغانستان را ترک کند و وظیفه قوماندانی اعلی نیروهای امریکایی و اروپایی را بعهده بگیرد.
این مطلب را روزنامه واشنگتن پست گزارش داد. روزنامه می نویسد، جنرال الن وقت بیشتر را در مذاکره روی موافقتنامه مشارکت ستراتیژیک با حکومت افغانستان و نظارت از آغاز کاهش نیروهای امریکایی از افغانستان سپری نموده است.
جنرال الن همچنان ستراتیژی ضد شورش نیروهای امریکایی را با توجه به امور بازسازی و حکومت داری تغیر داد و بیشتر به تربیه نیروهای امنیتی افغان و جنگ علیه طالبان محدود ساخت.
جان کربی سخنگوی وزارت دفاع امریکا می گوید، تصمیم نهایی در مورد وظیفه بعدی جنرال جان الن و آینده قوماندانی اعلی اروپایی هنوز اتخاذ نگردیده است.
هر گاه قصر سفید جنرال الن را به این وظیفه
بقیه در صفحه ۴

ترور ارسلا رحمانی ضربه بزرگ به شورای عالی صلح می باشد "ربانی"

دشمنان نه می توانند با کشتن رهبران سیاسی مانع روند صلح شوند

کابل، رسانه ها:
شماری از اعضای مشرانو جرگهء افغانستان می گویند که طرح ترور ارسلا رحمانی رییس کمیتهء زندانیان شورای عالی صلح این کشور، در بیرون از افغانستان برنامه ریزی شده بود.
این سناتوران در این مورد در جلسهء عمومی مشرانو جرگه به اشتراک رییس شورای عالی صلح صحبت کردند.
رییس شورای عالی صلح و برخی از سناتوران بدین باور هستند که پلان قتل ارسلا رحمانی در بیرون از سرحدات افغانستان طرح ریزی شده بود.
صلاح الدین ربانی رییس شورای عالی صلح که به روز سه شنبه در جلسه عمومی مشرانو جرگه فرا خوانده شده بود گفت، با آنکه کشته شدن ارسلا رحمانی ضربهء در پروسه صلح وارد نموده است، اما آنها به تلاش های شان جهت آوردن صلح ادامه می دهند.
آقای ربانی با آنکه از کدام کشور مشخص نام نبرد، اما گفت که حلقات در
بقیه در صفحه ۴

د تسلیت پیغام

PROPERTY OF ACKU

د پکتیکا ولایت د ارگون ولسوالی پخوانی مشهور جهادي قوماندان او د سولې د عالي شورای غړی سناتور مولوي ارسلا رحماني د یکشنبې په ورځ د کابل په یوې له ګڼې گوڼې څخه ډکې سیمې دهبوري خلور لارې کې دنامعلومو وسلوالو لخوا د تفنگچې په ډز ووژل شو اودپېښې عاملین په تېښته بریالي شول.
مولوي ارسلا رحماني دافغان جهاد یو پیاوړی مجاهد داعي او سیاست مدار و چې دخپل عمر په اوږدو کې یې د قدر وړ خدمات ترسره کړي وو. مولوي رحماني دعمر یوه لویه برخه د روسانو پر وړاندې په مقدس جهاد کې تېره کړې وه او د ژوند وروستي شیبې یې هم په هیواد کې ددایمي سولې او ثبات د راوستو په لاره کې تېرولې خو دسولې اوثبات دښمنانو نه غوښتل چې زموږ خاوره دې دسولې اوامن کور شي نو داسپین روبی اوعالم مشر یې په همدې جرم په ډیره
پاتې ۴ مخ

دامنیت پر وړاندې پراته خنډونه

عبدالله کامه وال
دریم مخ

ښوونځي د علم او عرفان مرکزونه دي

محمد خلیل
دویم مخ

مشرانو جرگې د "تاپي" تړون تایید کړ

کابل، رسنۍ:
مشرانو جرگې له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته د گاز د نل لیکې غځولو (تاپي) هوکړه لیک تایید کړ.
د افغانستان، پاکستان، هند او ترکمنستان ترمنځ د گاز نل لیکې (تاپي) هوکړه لیک نن د مشرانو جرگې د عامه هوساینې کمېسیون له لوري عمومي غونډې ته وړاندې شو.
د مشرانو جرگې په ننۍ غونډه کې شاوخوا ۸۰ تنه حاضر وو، چې د یاد هوکړه لیک د تایید لپاره ټولو شنه کارتونه پورته کړل.
د مشرانو جرگې د عامه هوساینې د کمېسیون رییس ډاکتر صمیم وویل، چې تاپي هوکړه لیک د یادو هېوادونو د حکومتي چارواکو تر منځ د ۱۳۸۹ کال په لیندۍ میاشت کې لاسلیک شوی دی.
د تاپي د پروژې له لارې به د ترکمنستان گاز د افغانستان له لارې پاکستان او بیا هند ته ولېږدول شي.
صمیم زیاتوي، چې د تاپي پروژې لگښت شاوخوا ۹ میلیارده امریکایي ډالره اټکل شوی، چې د اسیایي پراختیا بانک له خوا ورکول کېږي.
د افغانستان د کانونو وزارت د چارواکو د معلوماتو له مخې، افغانستان کولای شي د اړتیا په صورت کې له دې نل لیکې څخه په لومړیو کې هر کال ۶۰۰ میلیون مکعب متره او وروسته په کال کې څه باندې ۵ میلیارده مکعب متره گاز وپېري.
پاتې ۴ مخ

فساد گسترده در ادارات ملل متحد

دوکتور محمد انور

یازدهم سپتمبر در حالیکه چشم های جامعه جهانی در نظر اندازی به افغانستان را از حدقه بیرون نمود در کنار سرازیر شدن هزاران تن از سپاهیان اجنبی از سراسر دنیا و روی آوردن ملیاردها دالر همزمان بود. تصرفات جامعه بین المللی به زعم خود شان بمنظور اعمار افغانستان ویران شده تا سرحد آنکه این سرزمین بتواند فرزندان خود را در داخل همین مرز و بوم مشغول نگهدارد کارهائی براه افتید که باید مصرف این همه هزینه های سرشار فرزندان کشور ما را از آوارگی به منظور یافتن کار و لقمه عیشی به کشورهای همسایه ایران و پاکستان، کشورهای عربی و روی آوردن به اروپا، امریکا و استرالیا بی نیاز می گردانید، کمتر کسانی یافت می شود که بپذیرند پناهندگان افغان به آن کشورها معذرت های سیاسی دارند. اکثریت پناهنده پذیران در این کشور باور دارند اینها پناهنده اقتصادی اند و برای یافتن کار و لقمه نانی افغانستان را ترک گفته اند.
هر گاه مشکلات امنیتی در افغانستان مورد توجه قرار گیرد، همه می دانیم و دیگران هم پذیرفته اند که این مشکلات به شخصی غیر از شخصی، به قشری غیر از قشر دیگری تفاوتی ندارد، کاش هدفی را که جامعه جهانی عنوان می کرد صادقانه در اینجا مورد تطبیق قرار می گرفت، و فرزندان این سرزمین تا هنوز آواره باقی نمی ماندند. و کاش جامعه جهانی بر همان قشری که اعتماد نموده و بر جامعه افغانی حاکمیت آنها را تحمیل کرده بود می پذیرفت که به آنها تمرین حکومت داری بهتر را تعلیم دهد. اگر بپذیریم که دفاتر P.R.T در هر ولایت از طرف کشورهای ذیعلاقه مسلط در منطقه بخاطر رفع مشکلات مورد چشم دید آنها فعال گردیده بود و شاید مصارف اداری شان بار گرانی بر دوش کمک های آن کشور نبوده باشد
بقیه در صفحه سوم

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

کمیسیون مستقل انتخابات و قانون انتخابات باید در مشوره مستقیم احزاب سیاسی شکل گیرد

این یک اصل پذیرفته شده است که کمیسیون مرکزی انتخابات و همه فروع آن رول یک حَکم را در بازی ها داشته و به بازیگران اصلی احزاب سیاسی اند که اطراف مسابقات سیاست را تشکیل می دهند.

همه قوانین و تعاملاتی که به این کمیسیون تعلق می گیرد سرنوشت آینده سیاست و نظام را در یک کشور تعیین نماید. به احزاب و شخصیت ها و حلقات سیاسی ما رابطهء مستقیم دارد، هر گاه این کمیسیون به باور آنکه گویا به فرمان رئیس جمهور انتصاب شده اند بدون مشوره مستقیم احزاب سیاسی طرح قانونی را پیشنهاد نمایند و به مجالس تبلیغاتی با احزاب سیاسی اکتفا نمایند. برای آینده این سرزمین خاصتاً بعد از سال ۲۰۱۴ که برای هموطنان ما با دنیائی از اندیشه ها توأم است. با ارمغان بی اعتمادی و کم اعتمادی همراه باشد حتی اگر این بی باوری در حد دو انتخابات گذشته هم باشد بحران آور است که صدمه ای جبران ناپذیر بر ثبات سیاسی کشور ما وارد خواهد کرد و جرأت مخالفین مسلح نظام را چند بالا خواهد برد.

بر مسؤولین نظام واجب است بخاطر جلوگیری از بحران در آینده کشور و با حساسیتی که سال ۲۰۱۴ حائز آنست کمیسیون مستقل انتخابات را با همه سازو برگ و قوانین و تعاملات و صلاحیت های آن به مشوره مستقیم احزاب سیاسی مطرح در کشور و نمایندگان با صلاحیت آنها تعیین و سرو صورت دهند.

عدم توجه به این اصل که به معنای تحمیل افراد با توجه به ارضای خاطر شرکای قدرت تلاش برای ادامه و بقای قدرت بعد از ۲۰۱۴ تعبیر می گردد. مسؤولیتی است تاریخی که نظام موجوده بدوش می کشد که تحمیل کمیسیون مستقل انتخابات موجوده و تصویب قوانین پیشنهادی آنها حتی اگر از قنوات معمول هم باشد بار این مسؤولیت را از شانه های آنها نمی کاهد.

ښوونځي د علم او عرفان مرکزونه دي

محمد خلیل

د پوهنې وزیر ښاغلی فاروق وردګ د تېرې یکشنبې په ورځ په یوه خبري ناسته کې د افغانستان پر مسلمان ولس غږوکړ چې د ښوونځیو په ساتنه کې پوره ونډه واخلي او دهغو دښمنانو د ګواښونو مخه ونیسي چې افغان نسل له تعلیم نه بې برخې کوي.

ښاغلی فاروق وردګ وسله والو طالبانو ته په خطاب کې وویل: ای ورونو! که تاسې دغه کار کوئ نو د خدای لپاره خپل وطن له خدای پېژندنې مه محروموئ او که بهرني کسان ستاسې په نوم دغه کار کوي نو مه یې پرېږدئ چې دغه کار ستاسې په نوم تمام شي.

د خپرو شویو راپورونو له مخې د غویي میاشتې له پیل راهیسې نږدې ۴۰ ښوونځي په غزني ننګرهار او وردګو ولایتونو کې تړل شوي، په ننګرهار کې څلور ښوونځي سوځول شوي او د غویي په ۱۹ مه د ناپېژاندو وسله والو کسانو په برید کې د پکتیا د پوهنې ریاست څلور کارکوونکي وژل شوي هم دي.

لومړی خو په دې خبره ډېر زیات افسوس پکار دی چې موږ د یو الله، د یو رسول او د یو دین درلودلو باوجود تر اوسه ددې خبرې په اهمیت ولې نه پوهېږو چې د اسلام په سپېڅلي دین کې د علم زده کړې ته زیات اهمیت ورکول شوې دی او د "هل یستوی الذین یعلمون والذین لایعلمون" په فرمایلو سره د کائناتو پیدا کوونکي او متصرف ذات ټول انسانیت ته خبرداری ورکړی چې پوهان او ناپوهان سره کله هم نه شي برابرېدلی. خو له بده مرغه په موږ کې دهغو خلکو اوس هم څه کمی نشته چې تر اوسه د علم په قدر او اهمیت نه پوهېږي او د ښوونځیو د سوځولو او بندولو لپاره یې ملاتړلې ده.

په داسې حال کې چې د افغانستان په ښوونځیو، لیسو او پوهنتونونو کې داسې کوم مضمون نه لوستل کېږي چې هغه د اسلام د سپېڅلي دین له روح سره په ټکر کې وي، داسې یو متوازن نصاب ورته جوړ شوی چې له لومړی ټولګۍ نه د زده کوونکي ذهن له الله، رسول او د اسلام له دین سره اشنا کوي، قرآنکریم، لمونځ، توحید او د شهادت کلمه ورته ښایي.

کله چې یو شاګرد له دولسم ټولګي نه خلاصېږي هغه د اسلام له ټولو اړینو مسائلو نه خبروي. ددې ترڅنګ، پښتو، فارسي، عربي، ریاضي، کیمیا، هندسه، الجبر، تاریخ، جغرافیا او انګلیسي کې هم مهارت ترلاسه کوي تر څو د نوی زمانې د نویو اړتیاو ته اوږه ورکړی شي.

د ښاغلي فاروق وردګ دا خبره چې د ښوونځیو تړل له اسلام سره مخالفه کړنه ده څکه په سلو کې سل صحیح ده چې دا د الله تعالی دهغه صریح حکم په خلاف دی چې د طه په سوره کې محمد صلی الله علیه وسلم ته د علم د زیاتوالي د غوښتنې امر ورته کړې. څکه خو محمد صلی الله علیه وسلم به د هر فرض لمونځ نه وروسته "اللهم انی اسئلك علماً نافعاً" یعنی (ای الله! زه له تانه ګټور علم غواړم) دعا کوله.

ښوونځي د علم او پوهې د زیاتولو مرکزونه دي په دې کې سراسر د علم او عرفان ښوونه کېږي د قرآنکریم، عقاید، تجوید، فقه، توحید، ژبو او نورو ضروري او ګټورو علومو ښوونه پکې کېږي. په دغو ښوونځیو کې نه یهودیت ښودل کېږي او نه

نصرانیت او نه بله کومه مزخرفه عقیده چې د اعتراض په توګه وسوځول شي او یا هم بند کړې شي.

ریاضي، الجبر، هندسه، کیمیا، ساینس او نور عصري علوم هم په نافع او ګټورو علومو کې راځي څکه چې د انسان لپاره د ضرورت وړ شیان لکه بایسکل، موټر سایکل، انجن، جنراتور، تراکتور، الوتکه، لاری او داسې نور نقلیه وسایل تر هغه نشي جوړېدلې تر څو پورې چې په دې فن کې ساینس پوهان او انجنیران نه وي موجود، همداراز د ناروغانو درملنه او د دوایانو ایجاد تر هغه ناشونی دی تر څو چې په دې فن کې طبي ماهرین شتون ونه لري، همداسې د ژوند ټولې ساحې درواخلئ. دا ټول هغه علوم دي چې انسان ورته کلک ضرورت لري او محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې په تاسو کې هغه څوک ډېر غوره دی چې نورو خلکو ته یې ګټه رسېږي.

دا چې الله تعالی په قرآن کریم کې "وانزلنا الحدید فیه بأس شدید و منافع لناس" فرمایلي دي، ددې ښکاره مطلب دا دی چې له اوسپنې نه باید ګټه اوچته کړی شي، او له اوسپنې نه د ګټې اوچتولو لپاره د انجنیری فن ته ضرورت دی، همداسې په زمکه کې د کرکیلې لپاره د تراکتور، تریشر مشین او نورو ډېرو شیانو ضرورت مخې ته راځي که په دې فن کې انجنیر ونه لرو نو زموږ زراعت به په ټپه ولاړ وي او بل چاته به مو د ګدایي لاسونه نیولي وي.

د بهرنیو پوځیانو په خلاف د جهاد منطق به افغانان تر یو حده ومني خو د ښوونځیو سوځولو او تړلو منطق څکه څوک نشي منلی چې ددې کار لپاره د توجیه هېڅ صریح او قاطع حکم نشته بلکې دا سراسر د اسلام او د افغانستان د مسلمان ولس د ګټو په خلاف کړنه ده.

افغانان دا نه شي زغملې چې په دې پرمخ تللې زمانه کې هېواد یې له انجنیرانو، ډاکټرانو، اقتصاد پوهانو، ریاضي پوهانو، تاریخ پوهانو، ساینس پوهانو او نورو علمي اشخاصو له شتون څخه محروم ژوند وکړي او په ورځنیو چارو کې ټول عمر بل چاته د ګدايي کچکول ونیسي.

هر هغه څوک چې غواړي افغانستان د ناپوهی په ډګر بدل کړي هغوی اصلاً نه مؤمنان دي او نه هم افغانان، دا نه په اسلامي عقیده سنبال د طالب کار کېدلی شي او نه هم د بل کوم مخالف وسله وال کار، بلکې په دې کې هغه کړۍ ملوثې دي چې د اسلام تر نامه لاندې د مسلمانانو بدنامول غواړي او دا کار دی موخې لپاره کوي چې افغانان ټول عمر د علم او پوهې په ډګر کې تش لاسې او د ژوند په هر ډګر کې د پردیو غلام پاتې شي، ددولت وسله وال مخالفین چې خپل جنګ د اسلام او د وطن د آزادی په نوم یادوي تر خپل کنترول لاندې سیمو کې دې دهغو عناصرو د مخنیوې لپاره په حرکت راشي چې د علم او پوهې مرکزونه تړي او یا یې سوځوي، که څینې خالي الذهنه او جذباتي ځوانان په دې کار کې ملوث وي او په غیر شعوري ډول یې ترسره کوي نو هغوی دې پوه او له دې غیر اسلامي کار نه منع کړي او که د پردیو جاسوسان دا کارونه کوي نو دهغوی د مخنیوی لپاره دې کلک ګامونه پورته کړي، څکه چې علم او پوهه د ټولو افغانانو ګډ میراث دی او دوی افغانان د علم او عرفان له هغې رڼا څخه محروموي چې زده کول یې پر هر مسلمان فرض او ضروري دی. زموږ د افغانستان ټول علمي اشخاص که هغوی په دیني بخش کې دي او که صحي، زرعي، انجنیري، اقتصادي، ساینسي او نورو عصري علومو کې ټول د افغانستان د خاورې معماران او خدمتګاران دي، دوی یواځې په یو قوم او یوی زمانې پورې منحصر نه دي بلکې د ټولو افغانانو خادمان دي او ګردی خاوری ته به یې ګټه رسېږي. د ټولو په ګډو هلو ځلو به د افغانستان زمکنۍ بشپړتیا او سمسورتیا یقیني کېږي او د ټولو په خواری به د افغانستان ولس د بل چا له محتاجی او ګدايي نه نجات ترلاسه کوي. په حقیقت کې یو هېواد هله بشپړه خپلواکي ترلاسه کولې شي چې پخپل کور کې په هر څه پوره وي او د ژوند په ټولو څانګو کې ماهر او فني اشخاص ولري، که افغانان د علم او پوهې له زده کړې نه محروم پاتې شي نو په دې ساینسي زمانه کې به خامخا د بل چا لاس ته کیني چې همدې کار ته غلامي ویلی شي.

دامنيت پر وړاندې پراته خنډونه

عبدالله کامه وال

په افغانستان کې جګړې، ناخوالې، تاوتريخوالې، دشخصيتونو ترور او نورې ببلا بېلې ستونزې هغه مشکلات دي، چې له ځو لسيزورا پديخوايي زموږ پر هېواد منګولې خښې کړي. هغه مهال چې د حامد کرزي تر قيادت لاندې لنډمهاله دوره جوړه شوه، بيا انتخابات وشول او هغه د منتخب ولسمشر په توګه وټاکل شو، نو په لومړيو کلو کې له هره پلوه يو څه پرمختګ او ترقي ترسترګو کېدله. نړيوال ځواکونه چې افغانستان ته د سولې ! تر نامه لاندې راغلي وو، په لومړيو کلو کې ترې زموږ دولس يو څه د ښو هيله کېدله. لنډه دا چې د کرزي د واکمنۍ لومړي کلونه خلکو ته د نيکو هيلو، سولې او پرمختګ د کلونو په توګه ښکاره بدل او خلکو هيله درلودله، چې هيواد به يې نور له بدبختيو خلاص شي او ددرې لسيزو شخړو، بدمرغيو او تباهيو ته به نور د پای ټکی کېښودل شي، خو له بده مرغه د توقع خلاف هر څه سرچپه وختل، سوله پر ناامنۍ بدله شوه، پرمختګ د شاتګ ځوا ته لاړ، ابادي او بيارغونه په ټوليزه توګه کمه اوپه ځينو سيمو کې خو په ټپه ودريده، اداري فساد خپل اوج ته ورسېد، لوږې او فقر هرې خوا ته سر راپورته کړ، سوله ساتي په ويره اچونکو بدل شو او بالاخره هېواد يو ځل بيا د بدمرغۍ پرلور روان شو. په هر صورت په دې ټولو کې مهمه او خطرناکه موضوع د امنيت ده. که د نن ورځې امنيت د کرزي د واکمنۍ له لومړيو کلونو سره پرتله کړو، نو د ځمکې او اسمان هومره فرق يې کړی. دا سمه ده چې په دې برخه کې به ستونزې اومشکلات هم موجود وې خودومره هم نه چې دحل لاره نه لري، او امنيت ورځ تر بلې د خرابتيا په خوا لاړ شي، خو په دې برخه کې ټولو مشکلاتو ته په کتو سره بايد دا هم وويل شي، چې ځومره پيسې چې پر امنيت او امنيتي چارو په افغانستان کې لګول کېږي، په بله هيڅ برخه کې نه دي لګول شوي او نه لګول کېږي، خو بيا هم نه يوازې دا چې امنيت ټينګ نه شو او د ښه والي په خوا لانړ بلکې لا پسې خراب شوی او خرابېږي. هغه مهال چې نه منظمه اردو وه، نه منظم پوليس وو او نه تش په نامه د سوله ساتي پوځ ! شمېر پدااندازه و خوامنيت تر ډېره تامين و، اوولس هم يوڅه دډاډ اطمنان احساس کاوه خو له کومې ورځې چې اردو جوړه شوه دپوليسو اوملي امنيت تشکيلات پراخه اومنظم شو د خارجي پوځونو شمېر زيات شو، نو امنيت هم ورسره سمه کډه وکړه او ځای يې ناخوالو، بدمرغيو او جګړو ونيو. دهيواد لوی شخصيتونه ترور شول په لويو ښارونو ځانمرګي بريدونه زيات شول د ولايتونو اومرکز ترمنځ لوی لارې دامنيتي ګواښونوسره مخ شوی د پلازمينه په شمول ټول لوی اوواړه ښارونه نا امنه شول علت يې څه دی، ايا پدې کې دګاونډيو هېوادونو لاس و، دراغلو اشرګرو او که کوم خبره ده؟ چې دا ددې ليکنې اصلي ټکي دی او په دې ډول سره يې ځوابولی شو، چې له يوې خوا ګاونډيو هېوادونو په افغانستان کې د امريکا او ملګرو پر پوځي حضور خپلې اندېښنې ښوولې او په مقابل کې يې د هغوی د کمزوري کولو او خپلو هڅې پيل کړي او په همدې نيت يې په دې هېواد کې په مستقيمه او غيرمستقيمه توګه جګړه پيل کړې او يا د جګړې په تجهيز کې ونډه اخيستی، له بلې خوا په خپله په افغان دولت کې هم ګڼې ستونزې موجودې دي، چې له امله يې په افغانستان ديوباثباته نظام دپرمختګ مخه نيولې اداري فساد ته يې لاره حواره کړې اودهمدې پراخ ادارای فساد پايله ده چې د خلکو پرخپل دولت هيڅ باور نشته اونه ورته موجوده اداره خپله اداره ښکاري همدا علت دی چې د ولس اوحکومت ترمنځ فاصله ورځ تربله پراخيږي

بله مسئله د امريکا د دايمي حضور خبره ده، چې هم يې همسايه هېوادونه په اندېښنو کې اچولي او هم يې په داخل کې سخت عکس العملونه او مخالفتونه را پارولې دي او له امله يې د تاوتريخوالو په کچه کې لا زياتوالی راغلی دی او ان د اکثرو کارپوهانو په باور امريکا هم په غيرمستقيم ډول ناامنيو ته زمينه برابروي، تر څو نړی او افغانانو ته دا وښايي، چې دوی په يوازې سر د ځان امنيت نه شي خوندي کولی، او د همدې وروستيو ناامنيو اصلي انګېزه هم پر همدې مسئلې متمرکزه ده. چې ښه مثال يې پر افغانستان د پاکستان بريدونه او د افغان دولت چوپتيا، په مختلفو ولايتونو کې وروستي ناخوالې او جګړې، ډله ييز ځانمرګي بريدونه او نورې ناامنۍ يادولی شو، چې دا ټول د دې ځرګندويي کوي، چې افغان دولت ډېر کمزوری دی او په يوازې سر خپل امنيت نه شي ساتلی او په دې ډول امريکا دې ته زمينه سازي کوي، او حالات داسې جوړوي، تر څو په دې هېواد کې د پوځي اډو د ترلاسه کولو لپاره هم د افغان دولت، هم ولس او هم د سيمې د هېوادونو هوکړه ترلاسه کړي، په دې توګه د دغه هدف لپاره هرې چارې ته لاس اچوي او په افغانستان کې وروستی ټولې ناامنۍ همدې هدف ته د رسېدو زېرنده دي، چې له بده مرغه قرباني يې بيا هم اکثره عام ولس ور کوي.

فساد گسترده در ادارات ملل متحد

(ادامهء از صفحه اول)

دفتر ملل متحد مستقر در کابل و نمایندگی های آنها در سراسر افغانستان در حالیکه امتیازات طبعی کارمندان آن باری کمر شکن بر بودجه امدادی جامعه جهانی بود که بدون ضرورت دوباره از کشور خارج می شود و از روزی فرزندان آواره افغان می کاهد.

عراده جات مودل سال، وسایل، وسایط، موبل، فرنیچر وارداتی که در ادارات آنها بکار می رود، شاید کارمندان این ادارات فکر هم نمی کردند که در کشور فقیر و ویرانه بنام افغانستان آمده اند. اکت و ادای شان بالاتر از نظایر آنها در لندن، پاریس، برلین و واشنگتن است که این خود باری سنگینی است بر مساعدت های جامعه جهانی در افغانستان. چه رسد به آنکه گشت و گذار این عراده جات بر جاده های ویرانه و نیمه آباد شهرهای ما چنان با ناز و کرشمه است که گوئی افغانستان را آنها در این کره خاکی آفریده باشند و مردمان این سرزمین برده و غلام آنها باشد که شاید نفرتی که در کشور ما همین عراده جات و حاملان آن در دلهای مردم حک کرده اند بارها بیشتر از سواران بر وسایط زرهی اجنبی باشد.

مؤظفین افغانی در آن از چینل های خاصی و با امتیازات غیر موجه از قماش کمونیست های سابقه و یا صاحبان عقاید انحرافی مارکسیست های شکست خورده و یا آنهائی که در دشمنی با قهرمانان جهاد در افغانستان تمرین شده اند جا داده شده است و ادارات خاصی در آن طوری تعبیه شده که باید خدمتگاران راستین و صالح این سرزمین از مراجع مشکوک و مشبوه تزکیه شوند.

هرگاه جامعه جهانی بر ادارات دفاعی و امنیتی افغان اعتماد نتواند، از کجا و با وحی از کدام جبرئیل امین این افراد استخدام شده که معتمدتر از مامورین ادارات افغان باشد؟ هرگاه حجم ضایعات و سؤ استفاده را در ادارات افغانی مقایسه نمائیم شاید گوشه ناچیزی از معاشات ادارات ملل متحد شود. چه رسد به سایر امتیازات و مصارف و اثرات غرور و کبریای حتی رانندگان اجیر آنها بر روحیه و روان جامعه افغانی، حقایقی را که روزنامه وال ستریت ژورنال از آن پرده برداشته گوشه کوچکی از تصرفات سؤ ادارات ملل متحد باشد ولی گوشه نهایت حساس و خطرناک که هرگاه پولیس ملی و بخش های دفاعی و امنیتی افغان به این رازها دست یابند و اعتماد آنها بر جامعه جهانی و تصرفات آنها صدمه بیند خاصتاً این مظلومان جانبازانه ماه ها را در سنگر دفاع می افتند ولی معاشات آنها در مسیر راه حیف و میل می شود اثرات سؤ بر روان آنها خواهد گذاشت که بقای شان در سنگرها را زیر سوال خواهد برد.

بر جامعه جهانی و سازمان ملل متحد است که حجم دفاتر خود را در افغانستان در حد یک دفتر نمایندگی سیاسی عیار نموده و از ساز و برگی که بصورت غیر ضروری در مساعدتهای جامعه جهانی به افغانستان خود را شریک گردانند و منصرف شوند، از استخدام مشاوران و کارمندانی که مؤثریت کار آنها نزد جامعه افغانی مجهول ولی مصارف بالای آنها و رول شان در ترویج فساد اداری روشن باشد جداً بپرهیزند و از نمایندگی های ولایتی و ادارات موازی که دردی را از این ملت کاسته نمی تواند و بر اعتماد شان بر جامعه جهانی صدمه می زند صرفنظر بنمایند.

الله ته مطلوب ايمان

عبيدالله صافی

پر الله تعالی ايمان راوړل او هغه جل جلاله له څه شک او شبهې پرته په قوي يقين منل د اسلام د سپېڅلی دين اساس، او همدا د مؤمن او کافر ترمنځ توپير دی.

انسان پخپل ژوند کې دوه لارې خپلولې شي يا به د الله تعالی پرستش کوي او يا به د شيطان لاره تعقيبوي، هر هغه لاره چې د الله تعالی له ښودل شوې لارې سره په ټکر کې وي هغه به خامخا د شيطان لاره وي، او هر څوک چې د شيطان په لاره روان شي هغه کله هم الله ته نه شي رسېدلی.

اسلام په انسان کې د خدای پرستي جذبه پيدا کوي او دا يواځې د ايمان له لارې ترلاسه کېدلی شي.

که چېرته يو انسان پخپل ايمان کې مخلص، رښتونی او کلک وي نو دهغه روح د بندګی له روح او جذبې نه سرشاره وي، له طاغوت سره اړيکې شلوي او له الله سره يې کلکوي.

((فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لاَ انفِصَامَ لَهَا)) (البقره: ۲۵۶)

ژباړه: پس څوک چې له طاغوت نه انکار او يواځې پر يو الله ايمان راوړي نو هغه مظبوطه رسی کلکه کړه چې کله هم نه شلېږي.

پر الله د ايمان او يقين مطلب دا دی چې تا خپل ځان په بشپړ ډول الله ته سپارلی، دهغه جل جلاله غلامي دی داسې منلې چې د بل چا باداري ته کله هم غاړه نه ږدې او له الله پرته بل هېڅوک پر تا حکومت او باداري نه شي کولی.

ته په دنيا کې صرف دې مقصد لپاره ژوند تېروې چې خپل الله خوشاله کړې او لدې پرته ستا د ژوند بل هېڅ مقصد او ارمان نه وي.

ته د ايمان په ذريعه ددې خبرې ژمنه کوې چې زه د الله غلام او دهغه د حکم منوونکی يم او خپل ژوند په هغو اصولو برابر تېروم د کومو لارښوونه چې الله ماته کړې ده. له الله سره د غلامي او بنده ګي دا ژمنه له تانه خپل ټول واک اخلي، که پخپلې په دې ژمنه کې رښتونی يې نو بيا ستا هر څه ستا د خدای دي، ستا ذهن او ستا فکر به د خدای د حکمونو تابع وي، ستا ټول جذبات به د خدای لپاره وقف وي صرف د خدای د رضا لپاره به ژوند کوې او د هغه د رضا لپاره به خپل ځان قربانوې.

ستا ستر ارمان به دا وي چې الله ځنګه خوشاله کړم او د قيامت په ورځ به ځنګه دهغه د رحم او بخښنې وړ وګرځم.

ځينې وخت انسان فکر کوي چې د ايمان دولت ورسره دی مګر ورسره ورسره ژوند يې له خدای پرستي او غلامی نه خالي وي، هغه منې چې الله تعالی دهغه مالک او بادار دی ليکن دهغه جل جلاله د غلامی لپاره د هغه په زړه کې هېڅ ډول شوق او جذبه موجوده نه وي، هغه پر الله تعالی د ايمان دعوه خو کوي مګر د دنيا مينه او محبت دهغه پر ذهن او زړه دومره قبضه کړې وي چې د خدای مينې ته هيڅ ځای نه وي پرېښې، هغه په خوله د ورځې څو ځو کرته د الله نوم خو اخلي مګر پر خپلو کړنو او اعمالو يې د خدای حکومت قائم نه وي، اصلاً د دنيا او الله مينه دواړه يو ځای نه شي جمع کېدلی، داسې هېڅکله نه شي کېدلی چې د انسان زړه د الله له ويرې نه هم ولړزېږي او د بل چا له ويرې نه هم، پر الله تعالی د ايمان دعويدار هم وي ليکن د قرباني له ورکولو ځخه هم ووېرېږي.

ايمان خو انسان د الله تعالی وفادار او له نورو باغي کوي، کله چې دچا په زړه کې ايمان خپلې جرړې کلکې کړي نو دهغه پر زړه د باطل قبضه نه پاتې کېږي بلکې په بشپړ ډول د الله تعالی وفادار غلام جوړېږي.

يو انسان خو هله د دروغو په دام کې راګېرېږي چې رښتيا يې نه وي پېژندلې، کله چې د رښتيا حقيقت وپېژني نو بيا هغه د خدای له غلامی نه پرته د بل چا غلامي ته سر نه ټيټوي، هغه ځنګه کولی شي چې د ټولو کائناتو خالق، مالک او متصرف ذات چې ابدي او ازلي دی لازوال او لامثال دی د پناه کېدونکي او بې اختياره مخلوق ته د غلامی او بندګی سر کېږدي؟

ايمان هسې يوه نظريه نه ده چې په ذهن کې پيدا شي او همغلته دفن شي، بلکې دا يو انقلابي فکر دی چې په انسان کې سراسر بدلون راولي د نورو له هر ډول غلامي ځخه ورته نجات ور کوي او يواځې د يو الله غلامي ته چمتو کوي.

ايمان د الله تعالی د غلامي او دهغه جل جلاله د حکمونو د منلو نوم دی. الله تعالی يواځې هغه څوک پخپل غلامي کې قبلوي چې د زړه له کومې هغه ته تسليم شوې وي.

محمد صلی الله عليه وسلم په يو قدسي حديث کې داسې فرمايي:

((انا اغنى الشركاء عن الشرک من عمل عملاً اشرک فيه معى غيرى ترکته و شرکه وانا منه برئ هو للذى عمله)) (مسلم)

زه په شريکانو کې له ټولو نه زيات بې نيازه حصه دار يم، که څوک يو کار کوي او په هغه کې له ماسره بل څوک شريکوي نو زه هغه او دهغه حصه پرېږدم او زه له هغه نه بيزار يم او دهغه ټول کار دهغه چا لپاره دی چا لپاره يې چې ترسره کړی دی.

که چېرته يو څوک د خدای بندګي په داسې ډول کوي چې پخپلو کارونو کې د فيصلې او پرې کړې حق الله ته نه ور کوي نو هغه اصلاً د خدای بندګي نه دی غوره کړې، ځکه چې يو انسان تر هغه د خدای واقعي بنده او غلام نشي کېدلې تر څو پورې چې خپل ټول اختيارات او واکونه الله ته نه وي سپارلي، لوی الله له خپلو بنده ګانو نه بشپړ غلامي او بنده ګي غواړي لکه چې فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ ادْخُلُواْ فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَلاَ تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ)) (البقره: ۲۸)

ژباړه: ای مؤمنانو ! په اسلام کې په بشپړ ډول ورننوځئ او د شيطان پر پلونو مه ځئ بې شکه چې شيطان ستاسې ښکاره دښمن دی.

ايمان له موږ نه وفاداري، استقامت، مسلسل قرباني، جهد و جهد، خلوص، مينه او وينه غواړي، هر څوک چې دغو کارونو ته نه شي چمتو کېدلی نو دهغه ايمان هغه ايمان نه دی چې دهغه په نتيجه کې ورباندې د الله تعالی د رحمتونو او نعمتونو باران کېږي.

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

ايا د سولې خبرې به دوام وکړي او که نه؟

کريسچين ساينس مانيټور ورځپاڼه د سولې د عالي شورا د غړي ارسلا رحماني وژنې ته په اشاره ليکي، د افغانستان د سولې د عالي شورا د مشر برهان الدين رباني د وژل کيدو له پيښې لا يو کال نه دی پوره شوی چې د سولې د خبرو بل مهم مرکچي وژل کيږي.
د ورځپاڼې په باور له وسله والو مخالفانو سره روغې جوړې ته امريکا او ناټو له اوږدې مودې راهيسې په دې هېواد کې د رواني جګړې د پای ته رسيدو لپاره د يوه مهمې وسيلې په توګه ګوري.
له څه باندې دوکالو راهيسې چې د سولې خبرې جدی پيل شوي، نه يوازې دا چې تر اوسه يې مطلوبه نتيجه نه ده ورکړې بلکه ځو ځلي پرې سخت ګذار شوی او دغه بهير ټکنی شوی دی.
د کريسچين ساينس مانيټور په وينا د تيرې يکشنبې د ورځې وژنه به د سولې بهير ونه دروي خو دا پوښتنه راپورته کوي چې ايا د سولې خبرې به دوام وکړي او که نه؟

د افغانستان د مشرانو جرګې يوې غړې هيله اڅکزۍ دې ورځپاڼې ته ويلي چې طالبان روغه جوړه غواړي خو په دوي کې ځيني افراطي او د پاکستان د استخباراتو اى اس اى سره تړلې نورې ډلې شته چې د سولې ضد دي او پر ارسلا رحماني د حملې ترشاه همدغه ډلې لاس لري.
ګارډين:
بريتانوي ګارډين ورځپاڼې هم په دې اړه په يوه مطلب کې ليکلي، د رحماني قاتل ندی نيول شوی او طالبانو هم په دې پېښه کې خپل لاس لرل رد کړي که څه هم دې ډلې مخکې د سولې د عالي شورا غړيو ته ګواښ کړی و.
ګارډين د ډيپلوماتانو په وينا ليکي، د طالبانو نژدې هدف دا دی چې د حکومت يوه مهمه څېره چې د سولې هڅې پرمخ وړي په نښه کړي.
يوه لوړ رتبه ډيپلومات دې ورځپاڼې ته ويلي چې د رحماني وژنه واضح پيغام ورکوي چې له طالبانو سره د تماس نيولو بله لارنشته مګر دا چې د طالبانو له سياسي کميټې او مشرتابه سره يې مستقيم تماسونه ټينګ شي.
د دغه ډيپلومات په وينا رحماني په دې خاطر نه دی وژل شوی چې فوق العاده کاريې کاوه بلکه د ده په باور طالبانو هغه ته د يوه خاين په سترګه کتل.
رحماني چې د طالبانو په واکمنۍ کې د ښوونې د وزارت مرستيال و د طالبانو د هغو غړيو له ډلې يوو چې له طالبانو يې لارجلا کړې وه او د تير کال په جولای مياشت کې د ملګرو ملتونو له تورفهرست څخه يې هم نوم ليرې شوی و.
په افغانستان کې د ناټو ځواکونو ويلي چې د هغه وژنه ښيي چې طالبان سولې ته ډيرليواله ندي.
انډيپنډنټ:
بريتانوي انډيپنډنټ ورځپاڼې هم د رحماني د وژنې په اړه په يوه مطلب کې ليکلي، افغان حکومت او نړيوالو ځواکونو ووېل، دغه وژنه د هغو اختلافاتو ښکارندوې کوي چې په دې وروستيو کې د طالبانو په مشرتابه د کوټې په شورا کې راپورته شوي چې له امله يې ډېر وسله وال له جګړو لاس اخلي او د سولې له پروګرام سره يوځای کيږي.

امريکايي پوځيان به په افغانستان...

دا به افغان پوليس وي چې امنيتي خدمتونه وړاندې کوي.
هغه ويلي چې د خصوصي امنيتي کمپنيو په اړه يې له امريکا موافقې ته رسېدلی دی.
له افغان ولسمشر حامد کرزي څخه په دې مرکه کې پوښتنه شوې چې ايا د افغانستان خاوره به په پاکستان کې د امريکا د بې پيلوټه الوتکو د بريدونو لپاره وکارول شي که نه، هغه وويل چې دا د امريکا او پاکستان مسله ده او دې پرې خبرې نه کوي ځکه چې د بې پيلوټه الوتکو بريدونه د پاکستان په حريم کې ترسره کيږي.
کرزي په افغانستان کې د امريکا او شوروي حضور د پرتله کولو په اړه ووېل چې پخواني شوروي افغانستان ته نظامي قوت ورکړ، ډيرې ښې پرمختيايي پروژې يې جوړوې کړې او افغانانو ته يې ښه تعليم ورکړ خو په افغانستان کې د امريکا حضور د دې لامل شو چې په مليونونو افغانان بيرته خپل کور ته راشي او د افغانستان اقتصاد د امريکا د مرستو په وجه يو څه ښه شي.
کرزي وويل چې ډيری افغان طالبان ترهګر نه دي او هغوی هغه کسان دي چې له خپلو کورونو شړل شوي او موږ به هڅه وکړو چې بيرته يې خپلو کورونو ته راولو.
افغان ولسمشر له ترکي ټلويزيوني چينل سره په مرکه کې دا هم ويلي چې دا ډيره مهمه ده چې د افغان او پاکستاني طالبانو د ځانګو ترمنځ توپير وکړو. هغه ويلي چې افغانان وطن پال ملت دی، د هغوی قومي بيلوالی نا ممکنه کار دی او افغانستان د سيمې په کچه ډير بې ساری متحد هيواد دی.
نوموړي د افغانستان د راتلونکې په اړه د يوې پوښتنې په ځواب کې ووېل چې دی وړاندوينه کوي چې افغانستان به د سوداګريزو راکړو ورکړو په يوه مرکز بدل شي، او له ۲۰۱۴ کال وروسته به د بهرنيو سرتيرو د شمير د کميدو په صورت کې به د افغانستان اقتصادي اغيزمن نه شي بلکې په ټوله کې به ښه شي، ځکه چې له طبيعي زيرمو تر لاسه کيدونکی عايد اميدوار کړی او ورته د قناعت وړ دی.
افغان ولسمشر حامد کرزي په دغه مرکه کې د ريانوستي روسي خبري آژانس د خبريال د دې پوښتنې په ځواب کې چې ايا د حقاني، حزب اسلامي او طالبانو ترمنځ کوم توپير موجود دی که نه ځکه هغوی يو مهال ټول د پخواني شوروي پر وړاندې جنګيدل او ورته مجاهدين ويل کيدل، ووېل: " دا د غربيانو نظر دی چې دې ټولو ته ترهګر وايي او دا د هغوی نظره دی خو موږ د دغو ترمنځ فرق ته قايل يو هغه دا چې مجاهدين پکې شته، کله چې موږ د پخواني شوروي ملاتړ درلودونکی حکومت مات کړ او شورويان مو وشړل نو مجاهدين کابل ته راغلل چې زه يې هم غړی وم خو موږ پرته له دې چې وطن جوړ کړو په خپلو خپل منځې نښتو کې ښکيل شوو او اصلي هدف له ياده ولاړ او هر څه خراب شول".
کرزي ويلي چې دی به د سولې په پروسه کې له طالبانو او حزب اسلامي سره خپلو هڅو ته دوام ورکړي او په دغه لار کې بې هيڅ راز ستومانتيا ته تسليم نه شي.

جان الن آوايل سال آينده...

معرفی کند، در آن صورت او بايد از طرف مجلس سنای امريکا تصويب شود. اما مقامات وزارت دفاع امريکا به روزنامه واشنگتن پست گفته اند، در صورت تغيير شرايط در افغانستان، اين پلان نيز می تواند تغيير کند.
مقامات در وزارت دفاع امريکا گفتند، پنتاګون و قصر سفيد نمی خواهند تا قوماندان بلند پايه ناتو را در وسط فصل جنگ از افغانستان دور کنند.
اما تبديلی او در زمستان به جانشين وی مجال خواهد داد تا قبل از آغاز جنگ ها، راجع به اوضاع و شرايط آشنايی پيدا کند.
از جنرال جيمز ستاف ريدس (James Stavridis) قوماندان اعلی نيروهای امريکايی و اروپايی خواسته شده تا چند ماه ديرتر از دوره چهار ساله اش به وظيفه اش باقی بماند تا جنرال جان الن وقت داشته باشد از افغانستان بر گردد و برای وظيفه جديد آماد گی بگيرد.
به نوشته روزنامه، وظايف عمده جنرال الن در ماه های آينده اين خواهد بود تا نيروهای امريکايی را الی ختم ماه سپتامبر از ۱۰۰۰۰۰ به ۶۸۰۰۰ کاهش بدهد. در عين زمان او بايد بالای نيروهای افغان که توسط مربيون امريکايی تربيه شده اند اتکا کند تا جاهايی را که از طالبان گرفته اند آن را نگهدارند.
ولی هنوز تصميم گرفته نشده که چه کسی جنرال الن را در افغانستان تعويض خواهد کرد.
يک امکان اينست که جنرال ديويد راد. ريدگيوز قوماندان درجه دوم در افغانستان جانشين جنرال الن شود.
جنرال بحری رابرت هارورد که از توقيف گاه های عملياتی در افغانستان نظارت می نمايد نيز احتمالاً کانديد ديگر اين پست باشد.

ترور ارسلا رحمانی ضربه...

بيرون از کشور در تلاش هستند تا پروسهء صلح را در افغانستان مختل نمايند:
"دشمنانی که فکر می نمايند با هدف قرار دادن شخصيت های با نفوذ ملی پروسه صلح را خنثی بسازند، اشتباه می کنند. با شهادت مولوی صاحب ارسلا رحمانی در اين شکی نيست که پروسهء صلح ضربه بزرگ ديده ما او را از دست داديم اما اطمينان می دهيم که دشمنان به هدف ناپاک و شوم خود موفق نمی شوند، عوامل بيگانه عوامل که خارج از کشور از سرحدات کشور ميايند در افغانستان، ميخواهند مجاهدين و رهبران ما را شهيد بسازند."
ارسلا رحمانی رييس کميتهء زندانيان در شورای عالی صلح به روز يکشنبه در کابل توسط افراد ناشناس با ضرب گلوله کشته شد.
به اساس معلومات نيروهای پوليس، آقای رحمانی به وسيله تفنگچه بی صدا با يک فير کشته شده است.
در همين حال برخی از سناتوران بدين باور هستند که تفنگچه ها و موتر سايکل های که بخاطر ترور اشخاص با نفوذ استفاده می شود اکثراً از ايران وارد افغانستان می شود.
هدايت الله رهايی يک تن از اين سناتوران:
کشور های همسايه مثل ايران و پاکستان در مساله حملات انتحاری و ترورهای انفرادی دست به اقدام زدند. ايران با شبکه حقانی هماهنگ شده و به تعداد صد ها تفنگچه بدون صدا و موتر سايکل های پرشی را در ولايت نيمروز بخاطر تخريب افغانستان وارد نموده است، پارلمان بايد بالای حکومت فشار وارد نمايد که اين دسيسه های تخريبی که از بيرون به عوامل گوناگون تجهيز می شوند و يک ابتکار تازه را بوجود آورده اند و از طريق تفنگچه بدون صدا ترور انفرادی می نمايند، جلو آنها را بگيرند در وضعيت فعلی افغانستان، ترور انفرادی بسيار خطرناک است."
بعد از کشته شدن برهان الدين ربانی، ارسلا رحمانی دومين عضو برجسته شورای عالی بود که توسط افراد مسلح به قتل رسيد.
برخی از سناتوران در حالی کشته شدن ارسلا رحمانی را به ايران نسبت می دهند که به اساس معلومات مقامات امنيتی پلان قتل برهان الدين ربانی در پاکستان طرح ريزی شده بود و اين مساله سبب شد که فعاليت های کميته مشترک صلح ميان دو کشور متوقف شود.

د هرات د عالمانو د شورا يو غړی د ارسلا رحماني د قتل پړه پر ايران اچوي

آزادي راډيو:
په هرات کې د عالمانو د شورا يوغړی په ايران تور لګوي، چې د مولوي ارسلا رحماني په وژنه کې ښکيل دی.
مولوی غلام فارق حسيني، د وژل شوی افغان سناتور او د سولې د عالي شورا غړی مولوي ارسلا رحماني پر وژنه خوابدې ښودو، کورنۍ او د افغانستان ټولو استوګنو ته يې د هغه د مړينې تسليت وويل.
ده د هغه او نورو سوله دوسته افغان مشرانو وژنه کې د ګاونډيانو په خانګړې ډول د ايران د ښکيلتيا ويل؛ له حکومت څخه يې د پيښې د تحقيق او عاملينو ته يې د پيژند ګلوی په صورت کې د سختې جزا هيله لرله:
"مطمين اوسی، چې د مولوي ارسلا رحماني د وژنې پيښه طالبانو رد کړه او پرته له ايرانيانو د بل چا کار نه دی. دغه د لستونې مار هم د ايرانيانو له تحرک څخه رابهر او زموږ لوی ملي او مذهبي شخصيتونه ختموي.
له مومينو افغانانو څخه مې هيله ده، چې هوښيار شي او په وحدت سره د دغو فجاعو مخه ونيسي. " مولوي ارسلا رحماني، د طالبانو د واکمنۍ پر مهال يو لوړ پوړی مامور پاتې شوی و، په اوسني حکومت کې يې مشرانو جرګه کې غړيتوب او د سولې د عالي شورا مهمو استازو څخه يادېده، په دا وروستيو کې د کابل په "ده بوري" سيمه کې کار ته د تلو پر مهال ناڅرګندو وسله والو د بې غږه تومانچې په ډزو وواژه.
د سې شنبې په ورځ د مشرانو جرګې غړيو هم د هرات د علماوو د شوراه د غړيو په څېر نظر ورکړ او دا يې هم وويل، په کومه وسله چې رحماني وژل شوی، هغه ايراني وسله وه.
په ايران باندې له پخوا لا د افغان حکومت وسله واله مخالفينو سره د وسلې او نورو جنګي تجهيزاتو د مرستې ويل کېدل؛ مګر ايراني مامورينو ورته تورونه تل رد کړي دي.
دا چې مولوي غلام فاروق حسيني، څه ثبوت لري، چې په دومره جرات ايران د مولوي ارسلا رحماني په وژونې تورنې؟
ده په دې اړه ازادي راډيو ده وويل:
"د ستراتژيکي همکاريو هغه تړون چې په دا وروستيو کې افغان حکومت له امريکا سره لاسليک کړ؛ ايران يې د خپلو ګټو پر خلاف بولي، ځکه نو وروستی هڅه يې دا ده، چې د ملي شخصيتونو په وژنه افغانستان بې ثباته، د امنيتي د خرابولو په ذريعه يې د برياليتوب مخه ډب کړي. نو رحماني هم د سولې او امريکا سره د اوږده مهاله مرستود تړون يو له پلويانو څخه و. " مولوی حسيني، په هرات کې د علماوو د شورا په غړيتوب سربيره د همدغې شورا مطبوعاتي، دفتر مشري هم پر غاړه لري. په څرګنده کړه، چې د سونځيو ورانول او نورې ورانکارۍ کې هم ګاونډي هيوادونه د خپلو اجيرانو په مرسته کوي. ده وويل؛ چې پر دې موضوع به هرات د عالمانو په اونيزه غونډه کې بحث کړي او وروستي جزيات به يې رسنيو ته وړاندې شي.

د تسليت پيغام – پاتې برخه

ناځوانمردانه توګه په شهادت ورساو.
حزب اسلامي افغانستان رهبري شوری دمولوي ارسلا رحماني شهادت دافغانستان دمسلمان ملت او هغه چا لپاره چې پدې هېواد کې امن غواړي يوه ستره ضايعه ګڼي او له افغان دولته په کلکه غوښته کوي چې دپيښې دعاملينو په پيداکولو او محاکمه کولو کې دې چټک ګامونه واخلي. دحزب اسلامي مشرتابه او رهبري شوری مولوي رحماني ته د رب ذوالجلال له درباره دفردوس جنت او غمژنې کورنۍ ته يې د جميل صبر غوښتنه کوي.
(روح دې ښاد او ځای دې جنت وی)

مشرانو جرګې د "تاپي" تړون...

د ډاکتر صميم په خبره، د دې پروژې کار په ۲۰۱۳ زېږديز کال کې عملا پيلېږي او په پلې کېدو سره به يې د افغانستان اقتصاد ډېر پرمختګ وکړي.
د سرچينې په وينا، دغه نل لېکه شاوخوا ۱۸۰۰ کيلومتره اوږدوالی لري، چې ۹۱۷ کيلومتره يې د افغانستان په خاوره کې تېرېږي او هر کال به يې افغانستان د حق العبور له فيس څخه ۴۳۰ ميليونه امريکايي ډالره ترلاسه کوي. د اساسي قانون د ۹۰مې مادې له مخې، د دولتونو ترمنځ د معاهداتو او نړيوالو ميثاقونو تصديق او يا له هغو څخه د افغانستان ېلول د ملي شورا له واکونو څخه دي.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونيزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه
د امتياز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير: عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير: عبدالخليل (محمد خليل)

د اړيکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي - يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی

ډيزاين: خواجه وحيدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com